# د ټاکنو خپلواک کمیسیون پریکړه لیک

| | |
|---|---|
| **شمېره:** | ۴۴ـ ۱۳۹۳ |
| **موضوع:** | د رأیي ورکوني د ۲۰۰۰ محلونو د رأیو د تفتیش پایلې؛ |
| **ځانګه:** | د ټاکنو خپلواک کمیسیون دارالانشاء |
| **د غونډې نېټه او ځای:** | د ۱۳۹۳ کال د وږي۱۳مه، (د ۲۰۱۴ کال د سپتمبر ۴ مه) د ټاکنو خپلواک کمیسیون مرکزي دفتر. |
| **حاضر غړي:** | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني، ښاغلی عبدالرحمن هوتکي، آغلې ګلالی اځکزی، ښاغلی سرير احمد برمک، ښاغلی پوهاند محمد حسين ګرزيواني، ښاغلی محمد عزيز بختياري، ښاغلی قاضي سليمان حامد، آغلې ليلا احراري او آغلې شريفه زرمتی وردک. |

د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنيزو شکایتونو د خپلواک کمیسیون د صلاحیتونو، دندو او تشکیل قانون د ۱۳ مې مادې، د ټاکنو قانون د ۵۸ مې مادې د حکمونو او د خپلو ۳۳ او ۳۷ شمېره پريکړه ليکونو پر بنسټ د ټاکنو خپلواک کمیسیون د رأیي ورکوني د ۲۰۰۰ محلونو رأیو د تفتیش د پایلو په اړه ، په څلورو کټګوريو کې چې لړلیک ( فهرست) او ځانګړنې یې له دغه پریکړه لیک سره ضمیمه دي، په لاندې توګه پريکړه وکړه:

۱. د رأیي ورکوني ۲۰۰۰ محلونو له ډلې څخه ۲۳۳ هغه يې په چيک ليستونو کې د نه وضاحت له امله بیاځېړنې ته وړاندې شول چې ۸۷ محلونه په ځانګړي تفتيش او ۱۴۶ هغه په عادي تفتیش پورې اړه لري.
۲. د رأیي ورکوني ۵۶۲ محلونه چې د تفتیش په پایله کې هیڅ ډول بې نظمي او ستونزه په کې ونه لیدل شوه،نورمال دي، کومه ستونزه نه لري او پروسس دې شي؛
۳. په ټولیزه توګه د رأیي ورکوني ۱۱۳۳ محلونو بیاشمېرنه چې ۷۸۹ هغه يې په ځانګړي تفتیش او ۳۴۴ يې په عادي تفتيش پورې اړ لري، تأييد ده، د بیاشمېرنې په بهير کې دې شامل شي:

**د رأيي ورکونې د ۳۴۴ عادي صندوقونو د بياشمېرنې دلایل:**

۱. . د رأيي ورکوني ۲۶ محلونه په صندوقونو کې د پايلو فورمو د کاپي نشتوالي او يا هم د لاسوهنې د شواهدو د شتون له امله.
۲. د رأيي ورکوني ۸۵ محلونه په پايلو فورمو کې له ۶۰۰ څخه د زياتو رأيو د ثبت له امله.
۳. د رأيي ورکوني ۹۶ محلونه د صندوقو د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه د زياتو مهر او لاکونو د تخريب او ماتيدو له امله؛ يا د دې له پاره چې د صندوق د شاوخوا د دوو يا له دوو څخه زياتو مهر او لاکونو شمېرې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو فورمو له شمېرو سره سمون او مطابقت نه لري.
٤. د رأيي ورکوني ۳ محلونه د پايلو د اصلي فورمو او په صندوق کې دننه د پايلو فورمو کاپي تر منځ د توپير له امله.
٥. د رأيي ورکوني ۲۳ محلونه د رأيي ورکوونکيو ليست د نشتوالي يا سپين والي او يا په ليسټ کې له ۱۰ څخه د زياتو پرله پسې شمېرو د ثبت له امله.
٦. د رأيي ورکوني ۵ محلونه له دې امله چې صندوقونه يې دومره مات او تخريب شوي او يا يې مهر او لاکونه دومره سست دي چې لاس په کې دننه کيدی شي.
٧. د رأيي ورکوني ۱۰۶ محلونه له دې امله چې کم له کمه ۲۰ رأيپاڼې يې ورته نبنه شوي او يا د طرزالعمل مطابق نه دي نبنه شوي.

۴ . د رأيي ورکوني د ۷۲ محلونو د ټولو رأيو د ابطال تأييد دی چې ۲۴ هغه يې په ځانګړي او ۴۸ نور يې په عادي تفتيش پورې اړه لري:

**الف. د عادي تفتیش د ۴۸ صندوقونو د ابطال دلایل:**

١. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې د صندوق ډول یا بڼه یې هغسې نه وه چې د کمیسیون له خوا د ولسمشریزو ټاکنو د دویم دور له پاره وېشل شوي وو.

٢. د رأیي ورکوني ۳۱ محلونه له دې امله چې په صندوق کې یې هیڅ رأیي پاڼې نه دي موجودې، یا یې رأیي پاڼې مهر شوې نه دي، یا یې ټولې رأیي پاڼې د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، یا ټولې هغه په ورته بڼه نښه شوې او یا هم له کندې څخه نه دي بېلې شوې.

٣. د رأیي ورکوني ۶ محلونه له دې چې د رأیي ورکوني محلونو په ژورنال کې د زور زیاتي، جګړې او د کمیسیون د کارکوونکیو له کنټرول څخه د ټاکنیزو توکیو له لاسه وتلو په اړه ریپوټ ورکړل شوی وو.

٤. د رأیي ورکوني دري محلونه له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو لیست یې ورک یا سپین دی او یا هم ۳۳ سلنه رأیي پاڼې یې مهر شوې نه دي، یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، یا په څرګنده توګه ورته نښه شوې او یا هم له کندې څخه نه دي بېلې شوې.

٥. د رأیي ورکوني ۶ محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو یا له دوو څخه زیاتو مهر او لاکونو شمېرو په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره سمون نه لري او د پایلو په فورمو او د رأیي پاڼو په بنډلو کې یې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود دي.

٦. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو په لیسټونو کې یې لس یا لسو څخه زیاتې پرله پسې شمېرې ثبت شوې ، یا یې ۳۳ سلنه رأیي پاڼې ورته نښه شوې او یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

**ب. د ځانګړي تفتیش د ۲۴ صندوقونو د ابطال دلایل:**

١. د رأیي ورکوني ۱۱ محلونه له دې امله چې په صندوق کې هیڅ رأیي پاڼې نه دي موجودې، یا یې رأیي پاڼې مهر شوې نه وې، یا ټولې رأیي پاڼې د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې، یا ټولې هغه په ورته بڼه نښه شوې او یا هم له کندې څخه نه دي بېلې شوې.

٢. د رأیي ورکوني یو محل له دې امله چې د رأیي ورکوني محل په ژورنال کې یې د زور زیاتي، جګړې او د کمیسیون د کارکوونکیو له کنټرول څخه د ټاکنیزو توکیو له لاسه وتلو په اړه ریپوټ ورکړل شوی وو.

**٣.** د رأیي ورکوني ۳ محلونه له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو په لیسټونو کې لس یا لسو څخه زیاتې پرله پسې شمېرې ثبت شوې، یا یې ۳۳ سلنه رأیي پاڼې ورته نښه شوې او یا د طرزالعمل مطابق نه دي نښه شوې.

٤. د رأیي ورکوني څلور محلونه له دې امله چې د رأیي ورکوونکیو لیست یې سپین یا ورک شوی وو او کم له کمه ۳۳ سلنه رأیو یې ستونزه درلوده.

٥. د رأیي ورکوني ۵ محلونه له دې امله چې د صندوق د شاوخوا د دوو یا له دوو څخه زیاتو مهر او لاکونو شمېرې یې په صندوق کې دننه د مهر او لاکونو د ثبت فورمې له شمېرو سره سمون نه لري او د پایلو په فورمو او د رأیي پاڼو په بنډلو کې یې د لاسوهنې ښکاره شواهد موجود وو.

| د پرېکړې مخالف | د غړیو نومونه | د پرېکړې موافق |
|---|---|---|
| | ښاغلی ډاکتر احمد یوسف نورستاني | |
| | ښاغلی عبدالرحمن هوتکی | |
| | آغلې ګلالۍ اڅکزۍ | |
| | ښاغلی سریر احمد برمک | |
| | ښاغلی پوهاند محمد حسین ګرزیواني | |
| | ښاغلی محمد عزیز بختیاري | |
| | ښاغلی قاضي سلیمان حامد | |
| | آغلې لیلا احراري | |
| | آغلې شریفه زرمتۍ وردک | |